# شریعت
ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تاسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۳۴۹ ګڼه / سه شنبه ۲۰ جمادي‌الثاني ۱٤٤٥ هـ.ق / ۱۲ جدی ۱٤۰۲ هـ.ش / ۰۲ جنوري ۲۰۲٤ میلادي


## ذبیح الله مجاهد: رسانه‌ها در افغانستان آزادی خود را دارند

ذبیح الله مجاهد، سخنگوی امارت اسلامی افغانستان در واکنش به گزارش اخیر گزارشگران بدون مرز گفته است که رسانه‌ها در افغانستان هم آزادی و هم فعالیت خود را دارند. ذبیح الله مجاهد به رادیو تلویزیون ملی، گفته است «در افغانستان رسانه هم آزادی و هم فعالیت خود را دارند، البته با شرط این که قوانین مملکت و ارزش‌های اسلامی را مدنظر گیرند.» این درحالی است که سازمان گزارش‌گران بدون مرز در تازه ترین گزارش خود، افغانستان را یکی از خطرناک‌ترین کشورها برای خبرنگاران و کارمندان رسانه‌ای عنوان کرده و مدعی شده است که در سال ۲۰۲۳، ۲۱ خبرنگار از سوی امارت اسلامی زندانی شد و از این میان، سه خبرنگار هنوز در بند به سر می‌برند. اما ذبیح الله مجاهد گفته است «... گاهی وقت ادارات، مسوولان رسانه‌ی را برای شریک ساختن بعضی موضوعات یا تنبیه حاضر ساخته اند و پس رخصت کرده اند و این بازداشت نیست» مجاهد می‌افزاید که اما، بعضی از بازداشت‌های که منجر به محاکمه شده، صبغه حقوقی و جنایی داشته و مرتبط به کار رسانه‌ای نبوده است.

سخنگوی امارت اسلامی بار دیگر بیان داشت که رسانه‌ها به گونه آزادانه و با در نظر داشت قوانین مملکت و ارزش‌ها و اصول اسلامی در افغانستان به‌فعالیت‌های خود می‌پردازند.

گزارش

# استقبال اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری از تصمیم جدید کابینه امارت اسلامی




اتاق تجارت و سرمایه گذاری افغانستان، کنفرانسی را تحت عنوان «استقبال از فیصله اخیر امارت اسلامی افغانستان، درمورد تادیه پول های قروض، تضمینات و تامینات سکتور خصوصی» با حضورداشت هیئت رهبری اتاق و جمع کثیری از تاجران و سرمایه گذاران کشور برگزار نمود. هئیت رهبری اتاق تجارت و سرمایه گذاری در این نشست خبری افزودند که امارت اسلامی افغانستان به پیشنهادات اتاق تجارت و سرمایه گذاری افغانستان در مورد تادیه پولهای قروض و تضمینات سکتور ... ص۷

## مولوي عبدالکبیر: په ټول هېواد کې مو د متوازني پراختیا لپاره هڅې پیل کړې



د ریاست الوزرا سیاسي مرستیال مولوي عبدالکبیر هېواد کې د بیات قوم له مشرانو، علماوو او ځوانانو سره لیدنه کړې. په دې لیدنه کې د بیات قوم مخورو او علماوو د اسلامي امارت له مشرانو او چارواکو څخه په مننې ویلي، چې د اسلامي امارت دروازې تل د ولسونو پر مخ پرانیستې او خپل ورانډېزونه او غوښتنې یې د حکومت له رهبرۍ سره شریکې کړې دي. یادو قومي مشرانو او علماوو زیاته کړې؛ د اسلامي امارت له لوري د ودانېزو پروژو پیل د هېواد ښه راتلونکې تضمینوي چې له امله یې افغانان خوښ دي.

مولوي عبدالکبیر افغانستان د افغانانو ګډ کور یاد کړی او ویلي یې دي، چې اسلامي امارت د افغانانو د مساوي... ۷مخ

اوچا:

## مصوونیت غذایی در افغانستان بهبود و سطح گرسنگی کاهش یافته است

اوچا یا دفتر هماهنگی کمک‌های بشردوستانه سازمان ملل، گزارش یک‌ساله از کمک‌های بشردوستانه به مردم افغانستان را ارائه کرده‌است که در آن به بهبود مصونیت غذایی در افغانستان و کاهش سطح گرسنگی حاد در ایت کشور اشاره شده است.

این دفتر با نشر اعلامیه‌ای گفته است از آغاز سال جاری تا کنون، ۵۳ میلیون دالر از صندوق مرکزی واکنش اضطراری ملل متحد و ۱۳۵ میلیون دالر نیز از صندوق بشردوستانه افغانستان، برای حمایت و فعال کردن اقدامات بشردوستانه به شمول کمک به مردم آسیب‌دیده از حوادث طبیعی و بحران‌های ناگهانی، به مصرف رسیده‌است.

به گفته این دفتر، این کمک‌های مالی در بخش‌های سرپناه، غذا، صحی، آب، حفظ‌الصحه و سوتغذیه برای نیازمندان هزینه شده است. ص۷

OCHA
United Nations Office for the Coordination of Humanitarian Affairs

ملاخیرالله خیرخواه:

## قاچاق آثار تاریخی تاراج هویت ملی است



سرپرست وزارت اطلاعات وفرهنگ آثارتاریخی را، معرف تاریخ افغانستان خواند و قاچاق آن را به مثابه‌ی تاراج هویت این سرزمین خواند. ملاخیرالله خیرخواه سرپرست وزارت اطلاعات وفرهنگ دردیدار با رییس اطلاعات وفرهنگ بدخشان، برحفظ آثار وبنا های تاریخی تاکید کرد. ۷مخ

## یک سرمایه گذار در کابل جدید مجتمع صحی می سازد

غلام صدیق وحیدیار، از تجاران و سرمایه گذاران کشور قصد دارد که در کابل جدید یک مجتمع صحی بسازد. او امروز در دیدار با شیخ حمدالله نعمانی سرپرست وزارت شهرسازی و مسکن از طرح و برنامه خود در این خصوص معلومات داد. دفترص۷

## د نړۍ په کچه د فلسطین پر ملاتړ لاریونونه شوي



دا چې غزه کې د روانې جګړې له امله انساني تلفات ورځ تر بلې مخ پر زیاتېدو دي، د نړۍ په بېلابېلو لویو ښارونو لکه د پاکستان په لاهور، د عراق په بغداد، د لبنان په بیروت او ځینو... ۷مخ


که دین او سیاست سره جلا شي!! — ۲ مخ

ډیورنډ کرښې ته د افغان زمامدارانو غبرګونونه — صفحه ۳

په شل کلن جهاد کې د ترنم او ترانو نقش — ۵ مخ


سرمقاله

## امربالمعروف دې مهمو ټولنیزو فسادونو سره مبارزه وکړي!

دا یو واقعیت دی چې افغان ولس پر خپلو دیني ارزښتونو ډېر ټینګ او څه چې د دوی په مزاج او ملي کلتور کې اغېزل شوي، دسر په بیه یې دفاع او ساتنه کوي. خو له بده مرغه د دوی دغه خصلت له دوو خواو سخت ګواښل کېږي چې یقیناً له دواړو جهتونویې دیني التزام ته زښته ډېر زیان رسېدلی دی. تردې چې که دغه هریو همداسې خپلې مخې ته ازاد پرېښودل شي نو پرته له شکه چې زموږ او زموږ د راتلونکي نسل ایمان او دیانت ته ژور نقصان رسولی شي. دا دوه دښمنان څوک او څه شی دي؟ د زیاترو حکماؤ او هوښیارانو له نظره لومړی یې عولمه یعني نړیوالتوب دی چې ټول استادان، دعوتګران، تمویل کوونکي او سهولت کاران یې د نړۍ زبرځواکونه او د هغوی انسي او جنی حامیان او مبلغین دي. دوی د فردي آزادیو، جنسیتي مساوات او ښځو د آزادي لپاره نارې سورې وهي چې په حقیقت کې له فطرت سره جګړه د ټولنې او کورني نظم تبايي او د ستر فساد جرړه ده. دوی هم دین له منځه وړي، یوازې له خالق سره اړیکه یې بولي او په دې توګه یې زیاتره مسلمانان هم غولولي او په لاشعوري ډول یې په کفر کې شامل کړي دي. افغاني ټولنه کې څه هم د دغو فاسدو افکارو لپاره زښته ډېر کار کېږي او بلا وسایل یې په کار بوخت دي، خو بیا هم دومره عمومیت نه لري لکه زموږ ټولنه کې دویم موجود خطر دا کوم خطر دی؟ په ډېر تأسف چې دا خپله زموږ ټولنه کې پخواني یا اوسني موجود واکمن ناوړه رواجونه دي ! غم دادی چې زموږ زیاتره خواص یې له تطبیقه نه شي تېریدلی او عوام یې د خپل پلار- نیکه د رسم و رواج کلتور او دین یوه برخه ۷مخ

افغانستان بانک:

## د تېرو کلونو په پرتله د افغانۍ ارزښت ۲۶ سلنه لوړ شوی

د افغانستان بانک مسولین وایي، چې د تېرو کلونو پرتله د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د افغانۍ ارزښت ۲۶ سلنه لوړ شوی دی. د اقتصادي چارو شنونکي د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د افغانۍ ارزښت ساتل ستایي او ټینګار کوي، چې حکومت باید هېواد کې د بهرنیو اسعارو د کاروني مخه ونیسي او په دې برخه کې لا جدي اقدامات وکړي. د اقتصادي چارو د شنونکو په وینا؛ د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د افغانۍ ارزښت لوړېدل له اقتصادي ودې سره مرسته کولای شي. یادونې وړده، چې د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د سیمې د نورو هېوادنو پولي ارزښت کم شوی، خو افغانۍ بیا ورځ تر بلې لوړه شوې

## کندوز کې چک‌ډېمونه جوړېږي

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت مسوولان وایي چې د ۳۰ میلیونه افغانیو په ارزښت د کندوز په هرې ولسوالۍ کې د یوه چک‌ډېم د جوړېدو چارې یې پیل کړې. د یاد وزارت پرسرپرست محمدیونس اخوندزاده د یادې پروژې د پرانېستې پر مهال وویل چې د کندوز په شپږو ولسوالیو کې د یادو چک‌ډېمونو د رغونې چارې پیل شوې دي. د محمدیونس اخوندزاده په وینا، ټاکل شوې چې د یاد ولایت په هرې ولسوالۍ کې یو-یو چکډېم جوړ او کتې اخیستنې ته وسپارل شي. دغه چکډېمونه به د سېلابونو اوبو مهار او کرنیزو... ۷مخ

## رقابت سیرت النبی(ص) میان شاگردان مکاتب ولسوالی پغمان برگزار گردید

مسابقات سیرت النبی( صلی الله علیه وسلم) که چندی پیش میان شاگردان مکاتب ولسوالی پغمان ولایت کابل راه اندازی شده بود، طی محفلی به اشتراک مسئولین معارف، علمای کرام و شخصیت های خیر قومی، نتایج آن اعلان گردید. حکمت الله زاهد آمر معارف ولسوالی پغمان با اشاره به تعلیم علوم دینی در اصلاح جامعه، گفت که این رقابت ها چندی قبل به هدف آشنایی بیشتر شاگردان و جوانان به رفتار، کردار و گفتار نبی اکرم، حضرت محمد(ص) میان ۱۳۲۲ تن شاگردان مکاتب ولسوالی پغمان برگزار گردید که اینک بعد از ارزیابی های دقیق هیئت موظف، عبدالوهاب از لیسه دانش، صفی الله و مایل از لیسه ده عربان بالترتیب مقام های اول، دوم و سوم را از آن خود کردند که با اهدای کمپیوتر، نسخه قلمی قرآن کریم، مبایل و کتب مطالعوی و تقدیر نامه ها مورد تشویق قرار گرفتند. موصوف افزود که برای برندگان مقام های چهارم تا پنجاه ساعت های دستی و دیواری، کتاب و تقدیر نامه ها توزیع گردید. **تیموری**

مرکه

## سردار محمد داود خان روغتون په ۲۴ ساعتونو کې ۴۰ عملیاتونه تر سره کوي



د سردار محمد داود خان ۴ سوه بستریز روغتون مسؤلینو ویلي، چې د هېواد په کچه کمپلیکسي روغتون دی، چې هره ورځ ۱۲ سوه څخه تر ۱۴ سوه ناروغان د او پې ډې برخې ته د درملنې لپاره مراجعه کوي او په ۲۴ ساعتونو کې د ۴۰ څخه زیات لوی او واړه عملیاتونه تر سره کېږي. د ملي دفاع وزارت د ستر درستیز د روغتیایي چارو قوماندان تورن جنرال دوکتور ۷مخ

# جهادي خاطرې

## ملا فضل محمد مظلوم

**مولوي حیات الله مهاجر فراهي**

۱۳۸۰/۸/ لمریز کال

تېره ورځ مې د مسکو د کانفرانس نه د اسلامي امارت د تېر پېر د واکمنۍ د مهال د لوی درستیز ملا فضل محمد مظلوم انځورونه تر سترګو شول چې په غونډه کې یې حضور درلود او ورسره مې د شمالي ټلوالې د ټوپک سالار او اوسني تش په نامه مارشال عبدالرشید دوستم عکسونه هم تر سترګو شول.

د دې حالت په لیدلو مې ذهن د شل کاله وړاندې پېښو ته وګرځېد، ملافضل محمد مظلوم چې د اسلامي امارت په لیکو کې یو زړور، د جګړو په تاکتیک ماهر او نوموتی قوماندان و په لومړي ځل مې د خرقې شریفې په جامع جومات کې د مازدیګر د لمانځه په مهال ولید، چې یوه پښه یې غوڅه شوې وه او په لکړو (چارګسو) باندې روان و. دا وخت زه د کندهار په مرکزي جهادي مدرسه کې د طالب العلم په توګه په زده کړو بوخت وم.

دویم کال مې د کندهار په مظهرالعلوم فضلیه مدرسه کې داخله واخسته چې د ملا فضل محمد اخوند له لوري د کندهار په زاړه ښار کې جوړه کړل شوې وه او د ښو او با استعداده استادانو لخوا پکې درسونه ورکول کېدل.

ملا فضل محمد اخوند چې د شمالي ولایاتو په فتحه کولو کې یې کلیدي رول درلود، څو ځله یې په مخامخ جګړو او ماین چاودنو کې ژور ټپونه پرخپل بدن تحمل کړي و.

کله چې د امریکا په مشرۍ نړیوال صلیبي اتحاد پر افغانستان یرغل وکړ، ملا فضل محمد مظلوم په شمال کې و، حالات ډېر ترینګلي و، ورځ تربلې د شمالي ټلوالې جګړه مارو د امریکا د هوایي ملاتړ په مټ د پرمختګ هڅې کولې نو ملا فضل محمد مظلوم په دې لټه کې شو چې څه ډول په خپلو زرګونو جنګیالي د شمالي ولایاتو څخه خپلو کورونو ته په امن ستانه کړي.

نو په لومړي قدم کې یې د مشهور ټوپک سالار دوستم سره اړیکه ونیوله او بیا د څو تنو مشرانو سره چې پکې د جهادي مدرسې د طالبانو مشر شهید قاري فیض محمد فیاض، ملا عبدالقیوم ذاکر او نور څو تنه شامل و د دوستم سره له نږدې وکتل او د خپلو مجاهدینو پر انتقال یې ورسره خبرې وکړې او یوه توافق ته سره ورسېدل.

خو بدبختانه دوستم پرخپل عهد وفا ونه کړه او په زرګونو طالبان یې په ډېر قساوت په شهادت ورسول، هغه شپه چې طالبان د کندز د ښار نه راوتل د چاردرې ولسوالۍ د پله سره شاوخوا د شپې پر ۱۱ بجو د امریکایي سي ۱۳۰ الوتکو لخوا پرې درنه بمباري وشوه او په لسګونو طالبان یې په شهادت ورسول... په همدې سهار مې ملا فضل محمد اخوند یو ځای ناست ولید، ورغلم او د خپلو څو زخمي ملګرو د تداوۍ په هکله مې ورته وویل. په دا بله ورځ مې په وروستي ځل په داسې حال کې ولید چې موږ په سلګونو مجاهدین یې په ترلي لاسونو په یوه کنده کې کښېنولي و. د دوستم ملېشې راغلې، موږ یې ولاړ کړو او د ځینو کسانو لاسونه یې پرانیستل. زه او شهید قاري فیض محمد (رحمه الله) څنګ په څنګ ناست و ماته یې کړه: مولوي فکر کړم دا مو د ژوند وروستۍ شېبې دي، نور مو وژني. ما ورته په خندا کې وویل: نه قاري صاحب نه مو وژني که یې دا ځل مړه کړو زه دې ضامن یم، ده راته کړه دا خبره له کومه کړې چې نه مو وژني...! ما ورته وویل که یې وژلای نو دومره تکلیف یې نه رابانده ایستلو، همالته یې وژلو. زه او قاري صاحب په دې خبرو کې و چې دوه کروزین ډوله موټرونه راغلل، له یوه نه ملا فضل محمد مظلوم، ملا عبدالقیوم ذاکر او غالباً ملا نورالله نوري راکښته شول، فکر کړم دوستم هم په همدې موټرونو کې و. ملا فضل محمد اخوند مظلوم مجاهدینو ته لنډه وینا وکړه چې: موږ تر وروستي بریده خپل کوښښ وکړ چې تاسو ته د وتلو خوندي لاره پیدا کړو، زموږ همدا وس و موږ هم د دې لپاره دلته یو چې خلک ونه وایي چې خپل کشران او مجاهدین یې پرېښودل او دوی (مشران) ځني ولاړل.

واقعاً د مظلوم صاحب دا خبرې دردوونکې وې، اکثرو مجاهدینو وژړل بیایې خدای په امانی واخیست او روان شول. د هغه وروسته چې پر دوی باندې څومره ناخوالې او کړاوونه راغلي، په څه ډول یې تر ګوانتانامو رسولي او څنګه وخت یې تېر کړی، دوی او الله یې ښه سره خبر دي.

ما چې د مسکو په کانفرانس کې ملا فضل محمد مظلوم ولید نو بې اختیاره مې پر ژبه د قرآنکریم دا آیت جاري شو: ژباړه: «او همدا ورځې موږ د خلکو تر منځ اړوو را اړوو.»

ددې پېښو نه څرګندېږي چې په نړۍ کې ټولې کړنې تر اسبابو، ظاهري ځواک او ډېربښت پورې نه دي تړلي، بلکې کله ناکله ځینې شیان د انسانانو تر فکر، غوښتنو او ارادو ور هاخوا د الله تعالی له لوري په خارق العاده شکل رامنځته کېږي. ښه بېلګه یې همدا اسلامي امارت دی چې د محوه کولو لپاره یې نړۍ لاس سره ورکړ هر څه چې یې په توان کې و د طالب د نابودولو لپاره یې وکړه خو بیا هم طالب د تېر په نسبت په خورا ښه حیثیت د نړیوالو په وړاندې وځلېد.

دالله تعالی وعده د انسانانو د ټولو هڅو پر خلاف رښتیني وختل: ژباړه: «ای مؤمنانو! که تاسو د الله د دین مرسته وکړئ نو الله به ستاسو همکاري وکړي او ستاسې قدمونه به ټینګ کړي.»

# که دین او سیاست سره جلا شي!!

**سعید غلجي**

په اوسنۍ زمانه کې د مسلمانو او نا مسلمانو تر منځ دا خبره ډېره عامه ده، چې د عالم یې له حکومت سره څه؟ یا دا چې ګویا دین او سیاست سره جلا دي. دا خبره باید له دوو جهتونو وڅېړو: د سیکولرانو او مسلمانانو.

لومړی: که سیکولران دا خبره کوي، نو هغوی ته وایو، چې که دین (اسلام) او سیاست سره جلا شي او واکمني د سیکولرانو شي، نو هغه هېواد او ټولنه په معنوي لحاظ له ذلت او اخلاقي انحطاط سره مخ کېږي، هلته بیا د چا عزت، حیثیت او ناموس په امن نه وي، ټولنیز ارزښتونه له منځه ځي، شخصي ګټې لومړیتوب پیدا کوي، د کورني ژوند نظام له منځه ځي او د عدل پر ځای، ظلم حاکمېږي. لکه عملاً چې وینو، ټول سیکولر حکومتونه له دغه شان ستونزو سره مخ دي. د کفري نړۍ تاریخ ولولئ، په هره زمانه کې د کفارو په خپلمنځي جګړو کې په میلیونونو انسانان وژل شوي، معلول شوي او بې کوره شوي، هلته عدل او انصاف نشته، زورواکي ده، ظلم دی او وحشت دی. دغه راز؛ هېڅ ښځه پر خپل عزت او ناموس اطمینان نه لري، هره شېبه له خطر سره مخ وي، کورنی ژوند یې له منځه تللی وي، د مور او پلار حقوق تر پښو لاندې دي، فقط تر هغه وخته یو انسان، انسان دی، تر څو چې ځوان وي او زور او پیسې ولري. نو تاسې د دغه شان لوېدلي او ذلیله ژوند لوري ته بلنه کوئ، چې هېڅ د سالم عقل څښتن یې نه شي درسره منلای. راشئ د اسلامي نظامونو تاریخ مطالعه کړئ، د رسول الله صلي الله علیه وسلم، د هغه د راشدو خلفاؤ او تر هغه وروسته د نورو اسلامي خلافتونو سیاسي او اقتصادي مسیر مطالعه کړئ، د هغوی د عدل او انصاف ننداره وکړئ او ټول بشریت ته د اسلام او مسلمانانو له خدمتونو ځان خبر کړئ، هغه مهال چې ستاسې نیکونه به راتلل او له اسلامي پوځ څخه به یې غوښتل، چې راشئ زموږ سیمه هم لاندې کړئ او ژر مو د ظلم او جهالت له دغو تورو تیارو وژغورئ. هغه وخت چې ستاسې له هېوادونو به ډله، ډله ځوانان د تعلیم لپاره مسلمانانو ته راتلل او حتی ستاسې حاکمانو به خپل اولادونه د زدکړې لپاره مسلمانانو ته را استول. تاسې خو د جهالت په تورو تیارو کې راګیر واست، د اسلام په برکت مو سترګې خلاصې شوې او په مادي اړخ کې مو یو څه پرمختګ وکړ، خو ای کاش چې د اسلام پیغام مو پوره اورېدلی وای او له معنوي جهالت او ذلت څخه مو هم ځان ژغورلی وای.

دوهم: هغه نا خبره او غافل مسلمانان، چې په غیر شعوري توګه د سیکولرانو دغه شعار ورسره بدرګه کوي، چې ګویا دین باید له سیاسته جلا وي، نو هغوی ته وایو: کله چې رسول الله صلي الله علیه وسلم د مسلمانانو مشر ؤ او د حکومت واګې یې په لاس کې وې، بیا تر هغه وروسته چې د خلفاء راشدینو حکومت ؤ او تر هغه راوروسته آن د عثماني خلافت تر سقوطه، چې د حکومت واګې د علماؤ په لاس کې وې، نو مسلمانانو د عزت ژوند کاوه، په هره برخه کې مسلمانان پر ځان بسیا او پرمختللي وو، کنه رسول الله صلي الله علیه وسلم، خلفاء راشدینو او نورو مسلمانو حکمرانانو؛ یوه هم د اوسنیو په شان د ماسترۍ او دکتورا اسناد نه درلودل، ټول د قران کریم او نبوي احادیثو په ګانه سمبال وو، خو داسې حکومتونه یې وکړل، چې د قیامت تر ورځې به یې ټول بشریت تاریخ لولي.

خو له کومه وخته چې خلافت سقوط شوی، مسلمانان پر لسګونو هېوادونو وېشل شوي او حکومتونه د علماؤ له لاسه وتلی، له هغې ورځې د مسلمانانو ذلت پیل شوی، د نړۍ په ګوټ، ګوټ کې پر مسلمانانو ظلمونه روان دي، خو داسې څوک نشته چې غبر یې واوري. سره له دې چې د پخوا په نسبت اسلامي هېوادونه ډېر مجهز پوځونه، وسلې او مکانات لري، حتی د اټومي وسلو خاوندان دي، خو داسې خلک پرې حاکمان دي، چې په زړونو کې یې هېڅ ایمان نشته، شپه ورځ په دې هڅه کې دي، چې خپل کافر باداران راضي کړي، د مسلمانۍ هېڅ احساس نه لري، نه د اسلام د برم او عزت غم ورسره شته او نه یې پر مظلومو مسلمانانو زړونه دردېږي، خو که چېرې د دوی پر ځای علماء ناست وای او دین په سیاست کې شامل وای، ایا علماؤ به دغه ذلت قبول کړی وای، ایا بیا به د امت دغه حال وای!؟

نه، هیڅکله نه!

علماء د ځمکې پر مخ له الله تعالی څخه تر ټولو زیات وېرېدونکي خلک دي، هېڅکله به نه د خلکو حقوق ضایع کړي او نه به د مسلمانانو په دفاع کې یوه ذره غفلت وکړي، له همدې امله الله تعالی د ځمکې د خلافت حق پیغمبرانو او د هغوی په نه شتون کې د هغوی وارثانو (علماؤ) ته ورکړی.

همدا اوس د مسلمانانو پر لومړۍ قبله یهودو یرغل کړی، جګړه روانه ده، زموږ تر شلو زرو زیات فلسطیني مسلمانان ورونه شهیدان او په زرګونو نور ټپیان دي، کورونه یې کنډواله شول، خو په اسلامي هېوادونو کې داسې څوک نشته، چې دفاع ته یې ور ودانګي، سره له دې چې ښې مجهزې وسلې او امکانات لري، خو د غندنې له اعلامیو پرته مو بل څه ترې ونه لیدل. حتی دومره هم نه شي کولای چې د کفارو له اجازې پرته له افغانستان سره خپل تعلقات ورغوي او له دغه اسلامي نظام څخه ملاتړ اعلان کړي.

لنډه دا چې، مسلمانان باید هېڅکله پرېنږدي، چې دین له سیاسته جلا شي، بلکې سیاست باید د دین یوه برخه وګڼو او په لویه کې باید حاکمیت حتماً د علماؤ په لاس کې وي.

علماء هم باید هېڅکله له حکومت او سیاست څخه ډډه ونه کړي، دا ستاسې مسؤلیت دی، په دې اړه به پوښتل کېږئ، له سیاست پرته مو مسلماني نیمګړې ده، که له حکومت څخه مو لاس واخیست، ستاسې ځای به فاسقان او منافقین نیسي. البته، هدف دا نه دی، چې په هره چوکۍ دې ملا وټاکل شي، بلکې لومړۍ درجه حاکمیت دې د علماؤ په لاس کې وي، نورو ښکته برخو کې دې هر کار خپل اهل ته وسپارل شي، همدا الهي حکم دی او په همدې توګه به په ګډه د اسلام او مسلمانانو دفاع کوو.

زموږ هېواد کې هم د زمانې په تېرېدو سره، تدریجاً علماء څنډې ته شوي وو، یوازې د جوماتونو امامت یې خپل مسؤلیت ګانه، ځکه خو خبره ورانه شوه، له دین څخه غفلت عام شو او ځوانان مو د کفارو د ناوړه پلانونو ښکار شول، تر دې چې شورویانو زموږ یوه ډله ځوانان په کمونستي عقیده وروزل، هغوی پر داود خان کودتا وکړه، هغه یې شهید کړل او بالآخره شورویانو خپله هم یرغل وکړ او او د څلویښت کلنې جګړې او ناخوالو باب یې پرانیست. دا هر څه د علماؤ د غفلت له وجې پېښ شول، که علماؤ خپل مسؤلیت په سمه توګه اداء کړی وای، ولې به زموږ ځوانان په کمونستي نظریه روزل کېدل او ولې به شورویانو ته د یرغل زمینه مساعده کېدله.

په هر صورت؛ ښه شوه چې د شورویانو یرغل زموږ علماء بیرته راویښ کړل، د جهاد روحیه په کې پیدا شو او د سوچه اسلامي نظام او حاکمیت لپاره یې مبارزه پیل کړه، هماغه یرغل کې الله تعالی موږ ته خیر واچاوه، موږ یې راویښ کړو او له تدریجي مرګ او غفلت څخه یې نجات راکړ، نو اوس باید علماء انتهایي بیدار واوسي، دا یو کمساری زرین چانس دی، دا فرصت باید ضایع نه شي. د دغه نظام د پایښت او استحکام لپاره انتهایي زیات سیاسي بصیرت، حکمت او تدبیر ته اړتیا ده، نو باید ډېر محتاط واوسو، دا د اسلام او اسلامپالو وروستی مورچل دی، که خدای مه کړه، دا ځل هم د علماؤ له لاسه واکمني ووتله او میدان سیکولرانو ته پاتې شو، بیا به څوک د اسلام نوم هم نه شي اخیستلی او خدای مه کړه د تل لپاره به اسلام او سیاست سره جلا کړي.

دا ځل موږ پورې ټول اسلامي امت او اسلامپالو ډلو خپلې هیلې تړلې، که په حکومتولۍ کې ناکام شوو، نو زموږ تر څنګ په ټوله نړۍ کې به د اسلامپالو داعیه کمزورې شي او سیکولرانو ته به د خپل دروغجن شعار لپاره بله پلمه او دلیل هم په لاس ورشئ. نو ډېر محتاط اوسئ!

# نبردی که شمشیر جهاد را با نور ایمان صیقل داد

**احمد**

از ۱۵ میزان سال روان تا اکنون، جنگ تحمیلی در نوار غزه توسط رژیم خون آشام اسرائیل بیش از ۲۱ هزار قربانی گرفته است که اکثر این قربانیان، زنان، کودکان و کهن‌سالان اند، رژیم صهیونیستی در این مدت، غزه را از دریا، زمین و هوا مورد حملات وحشیانه قرار داده، اما با تأسف نه تنها کشورهای اسلامی، بلکه سازمان ملل متحد و به ویژه کشورهای که سنگ دفاع از حقوق بشر و حقوق اقلیت ها را به سینه می‌کوبند و کنوانسیون ها و قوانین ملل متحد پیرامون دفاع از حقوق کودک، حقوق‌بشر و... را امضا کرده اند با تمام پر روی و بی میلی نسل‌کشی، جنایات جنگی و بشری اسرائیل را، آن هم در همین قرن، تماشا می‌کنند که این عدم مسئولیت پذیری کشورهای بزرگ اسلامی و ملل متحد، ضمیر و وجدان انسان‌های آگاه در جهان اسلام را می‌آزارد، اما در عین حال مقاومت و پایمردی مجاهدین در غزه، نهال امید را بارور می‌سازد و این نوید را می‌دهد که آفتاب پیروزی مردان خدا در غزه در حال طلوع کردن است.

ادامه جنگ و زمین‌گیر شدن نیروهای تا دندان مسلح رژیم صهیونیستی در این نبرد نابرابر نه تنها ناتوانی رژیم غاصب را به نمایش می‌گذارد، بل سبب شناخت مظلومیت مردم فلسطین و بسیج افکار عمومی جهان علیه اسرائیل و حامیان بین‌المللی شان شده است، زیرا نابودی مجاهدین حماس و اشغال غزه آن هم در مدت کوتاه، یکی از اهداف اصلی رژیم اسرائیل بود که با مقاومت مجاهدین در غزه، این غاصب زورگو نه تنها به هدف‌های از پیش تعیین شده خود، دست نیافت، بلکه اتوریته و پرستیژ سیاسی و نظامی خود و حامیانش را نیز در جهان از دست داد و شیر برفی آن نیز ان شاءالله رو به آب شدن است، برعکس این مقاومت بزرگترین دستاورد را برای ملت آزاده فلسطین رقم زد.

روی این اساس گفته می‌توانیم، آنچه در نوار غزه، اتفاق افتاد، ضربه به فلسطین و مجاهدین غزه نه، بل پیروزی تاریخی برای مسلمانان در فلسطین قلم داد می‌شود. مسلماً این شکست ننگین و تاریخی، چنان سبب جنون رژیم صهیونیستی گردید که دیوانه‌وار پایگاه های نظامی و افراد ملکی، محلات مسکونی و درمانگاه‌ها را یکسان بمب‌باران می‌کند، به تازگی رسانه‌ها گزارش داده‌اند که قوای هوایی اسرائیل، اردوگاه پناهندگان المغاری در مرکز غزه را بمب‌باران کرده که این حمله، دست کم نزدیک به ۱۰۰ شهید و مجروح، از افراد ملکی قربانی گرفته، گزارش‌ها حاکی از آن است که ده ها تن از مجروحان به شفاخانه الاقصی در نزدیک این اردوگاه منتقل شدند و تصاویر منتشر شده نیز چهره خونین کودکان و انبوهی از اجساد شهدا را نشان می‌دهد که دیدن این صحنه انسان‌های با وجدان را نهایتاً متأثر می‌سازد. از حمله‌ی فجیعانه رژیم صهیونیستی بر نوار غزه نزدیک به ۸۰ روز می‌گذرد، در این حمله بیش از ۲۱ هزار باشنده بی‌گناه غزه، شهید و بیش از ۵۵ هزار دیگر زخمی و شهر غزه نیز به یک ویرانه مبدل گردیده است، اما صرف شماری از کشورها با اعلامیه اکتفا کرده و بقیه جهان، سازمان ملل‌متحد و سازمان‌های جهانی، خاموشانه این جنایات قرن را مشاهده می‌کنند، اما مجاهدین غزه با توکل با خداوند عزوجل و اراده فولادین شان به مقاومت سرسختانه‌ی خود با سلاح ایمان، ادامه می‌دهند و با استقامت و پایمردی شان، دشمن متجاوز و مغرور را چنان ذلیل و زبون ساخته که رسانه‌ها از چند دستگی کابینه جنگ رژیم غاصب، شیوع امراض در میان نظامیان و تضعیف نیروهای اسرائیل در میدان جنگ، خبر می‌دهند.

هفته گذشته کابینه جنگی اسرائیل به دلیل تشدید اختلاف‌ها لغو گردید به تازگی رئیس پیشین نیروهای ذخیره اردوی رژیم صهیونیستی، از تضعیف نیروهای ذخیره اردوی این رژیم هشدار داد و گفت که پس از حمله‌ی هفتم اکتوبر نیروهای ذخیره، بدون اینکه ساماندهی شوند برای جنگ فرا خوانده شدند، هم‌چنان پزشکان اخیراً در تل ابیب تأکید کردند: برخی از نیروهای این کشور که در حمله زمینی بر غزه شرکت کرده بودند، دچار یک نوع بیماری جدی معده به نام شیگلا شده‌اند، این علایم بیماری، بروز اختلافات و سراسیمگی در میان کابینه، تظاهرات علیه صدراعظم اسرائیل، به درازا کشیدن جنگ و... نشانگر نابودی و شکست قریب الوقوع رژیم صهیونیستی در خاورمیانه است. درست است که مردم و مجاهدین غزه در این جنگ تحمیلی، تلفات مضاعفی را متحمل شدند، اما شجاعت، از خودگذری، پایمردی، ایمانداری و... را از خود به نمایش گذاشتند که یقیناً ثمره‌یی دارد به نام عزت، سربلندی، آزادی، ادای مسئولیت و... این ویژگی جز با قربانی دادن، میسر نمی‌شود.

بناءً جنگ و مقاومت مردان فولادین غزه نه تنها سبب مشرف شدن روز افزون جوانان امریکا و اروپا به دین مقدس اسلام گردیده، بلکه شمشیر جهاد و حق طلبی را با نور ایمان صیقل داده، عظمت و حقانیت دین مقدس اسلام را نیز به نمایش گذاشته است.



# د اقتصادي ستونزو حل کول یو لومړیتوب دی

متین

هردولتي بدلون په لومړیوکې ديو لړ ستونزو سره مخامخ کېږي ځکه دچارو د سمبالښت له پاره مسؤلین ځانته ځانګړنې او دریځ لري ترڅو د پلې کېدو له لپاره يې مناسبې لارې وموميي. اسلامي امارت هم واک ته درسېدو پرمهال دپوره اقتصادي ستونزو سره مخامخ شو ځکه اشغالګرو هېوادو پراسلامي امارت بېلا بېل بندیزونه ولګول اواقتصادي بحران رامنځته کېدو له پاره يې مافیايي کړې په دندو وګومارلې ترڅو د ډالرارزښت لوړ اوسوداګریزي راکړې ورکړې دخنډونو اوستونزو سره مخامخ شي. دې ډول ناوړه هڅو دهېوادوالو ترمنځ دلوړې اوقحتي ویره رامنځته کړه. خو اسلامي امارت په ډېره ځیرکتیا، ګړندې ګامونه پورته کړل او دهېواد ددښمنانو شومي توطئې يې په لږ وخت کې مدیریت کړې، اوس هم داشغالګرو له خوا لګول شوي بندیزونه پرځای پاتې دي او دهرې ورځې په تېرېدو سره دنویو بندیزونو په لټون بوخت دي.اسلامي امارت ددې ټولو ناوړه هڅو په مقابل کې مظبوط دریځ غوره کړي اواقتصاد بیا پیاوړتیا ته يې په خپلو کاري لومړیتوبونوکې ځای ورکړي دي او هڅه کوي چې په کوردننه دعوایدو کچه لوړه اودبهرنیو مرستو پرته یو آزاد اومستقل اقتصاد رامنځ ته کړي. ځکه داشغال پرمهال مصنوعي اقتصاد چې دبهرنیو مرستو پربنسټ ولاړؤ داشغال دختمیدو سره سم يې اقتصادي بنسټونه ونړیدل او اسلامي امارت ته په پوره پیمانه ستونزې راپاتې شوی. نوله دې کبله اړینه ده چې اسلامي امارت دهغو لارو په لټون کې زیاته پاملرنه وکړي کوم چې خپلواک اقتصاد رامنځ ته کوي. داډه یو چې داسلامي امارت دخپلو مناسبو تجروبو له مخې به په لږ وخت کې مات اوګوډ اقتصاد ژر ترژره راجوړ او اقتصادي ستونزې به حل شی.همدااوس داسلامي امارت په راتګ سره اقتصادي پیاوړتیا له پاره راپیل شوی خوځښت دپام وړ ګڼل کېږي ځکه داقتصادي جوړښت له کبله صنعتي چارې سمون پیدا کوي او په هېواد کې د وزګارو له پاره دکارزمینه برابرېږي. راپورونه ترلاسه کېږي چې دهېواد په مختلفو ولایتونوکې دچکډیمونو دجوړېدو لړۍ روانه ده چې په جوړېدو سره به يې نه یوازې کاري بوختیا رامنځته شي بلکې زراعتي نیمګړتیاوې به هم ورغاول شي.دغه راز دکانونو دراسپړنې له پاره ښې چارې ترسره کېږي اوپه مسلکي توګه يې ځیړنیز بهیر په پام کې نیول شوی چې ددې لارې تراوسه داقتصاد په بیارغاونه کې مناسب ګام پورته شوی دي. تمه ده چې لاس ته راغلي عواید دهېواد د لویو اوستراتیژیکو پروژو له پاره لارهواره کړي، ځکه پرته دصنعتي پراختیا اوستراتیژیکو پروژو دپلې کېدو څخه اقتصادي پیاوړتیا اوږدمهاله اوستونزمنه وي، له دې کبله اوسنی اقتصادي دریځ دخلکو دملاتړ ګرځیدلی. هیله ده چې مسؤلین ترسره شوي هڅې لاپسې زیاتې او ترڅنګ يې دهغو هېوادو سره دمتقابلو ګټو دخوندیتوب له پاره اړیکې ټینګې کړي چې زموږ دهوساینې اوپرمختګ سره مینه لري. داسې هېوادونه شتون لري چې دخپلو ګټو دترلاسه کولو له پاره لیواله دي چې داسلامي امارت سره ښې اړیکې ولري او داقتصادي راکړې ورکړې له پاره لاره هواره کړي.خوځینې بیا په اړیکو کې سیاسي ګټې لټوي او د زبرځواکو اشغالګرو په لارښوونه پلمې اوستونزې زیږوي نه غواړي چې افغانان په هوساینه کې ژوند وکړي له دې کبله په یوه ډول نه یو ډول ستونزې راپیدا کوي او دافغانانو په پرمختګ نه خوشالېږي . اسلامي امارت دیوه مسلمان او متحد دولت په توګه له ټولو هېوادو سره دښو اړیکو دټینګښت اورامنځته کېدو له پاره دروازې خلاصه پریښې ځکه په سیمه اونړۍ کې داړیکو په پیوندکې د راکړې ورکړې له امله اقتصادي پیاوړتیا رامنځته کېږي او دوګړو له پاره اقتصادي ستونزې له منځه ځي. پوهېږو چې دامهال به افغانان راپاتې شوي ستونزې وزغمي ځکه په ټوله کې په دې پوهېږو چې زموږ هېواد د ډېرې خونړۍ اشغالګري جګړې څخه راوتلی دي. او زموږ مجاهداولس دنړۍ داشغالګرو سره شل کاله ډغره ووهله او ترهغه يې وځپل ترڅو چې تېښتې ته اړ شول نو شرمیدلی اشغالګر کله غواړي چې افغان مجاهد ولس دې دهوساینې آرام ژوند ولري هغوی چې په نړیواله کچه ماتې خوړلی اوس دخپلې ماتې دجبیره کولو لپاره ستونزې زیږوي ترڅو خپلې ناوړه موخې ترلاسه کړي .خو اسلامي امارت دهرلاس وهونکي لاس وهنه په دقیقه توګه څاري، هېڅ لاس وهونکې به په دې بریالي نه شي چې زموږ په آزاد او خپلواک هېوادکې بیا خپلې ناوړه موخې ترلاسه اویا ورته لارهواره کړي، ځکه اسلامي امارت د خدای په فضل اودافغانانو په ملاتړ ډېرې ستونزې هواری کړې اوهڅه کوي دخپلو خلکو په ملاتړ نورې راپاتې شوي ستونزې هم ورغاوي او دهېواد د پرمختګ له پاره ګړندي ګامونه پورته کړي.

# ۲۰۲۳م کال د افغان کډوالو لپاره څومره له ستونزو ډک و! ؟

راشد آرین



له پاکستان او ځینو نورو ګاونډیو هېوادونو د افغان کډوالو را ایستل د ۲۰۲۳ زیږدیز کال له مهمو پېښو څخه وو، چې لا هم د ایران او ترکیې هېوادونو له لوري له افغان کډوالو سره بد چلند دوام لري او سلګونه کډوال بېرته افغانستان ته را شړل کېږي.په دغه کال په پاکستان کې چې په تېرو څلوېښتو کلونو کې يې له ټولو ډېرو افغان کډوالو ته ځای ورکړی و، د لنډمهالي حکومت په راتګ سره د مېشتو افغان کډوالو پر وړاندې بدلون راغی، پاکستاني چارواکو د اکتوبر په درېیمه په یوه بې ساري اقدام کې د ۱،۷ میلیونه افغانانو په ګډون په پاکستان کې مېشتو کډوالو ته د نومبر تر لومړۍ نېټې وخت ورکړل شو، چې له پاکستان خاورې ووځي!که څه هم د افغان کډوالو په تړاو د پاکستان له لنډمهالي حکومته د بیا کتنې له پرله پسې غوښتنو سره سره، پاکستان په ځینو مواردو کې تر دې هم وړاندې ګام کېښود او افغان کډوال يې تر پخوا ډېر وځورول، پاکستان په داسې حال کې د افغان کډوالو پر وړاندې د بې عدالتۍ پرېکړه وکړه،چې له یوې خوا سوړ ژمی په راورسېد، له بلې خوا پاکستاني کرنیلانو د افغان کډوالو وهل ټکول، ځورول او زندانونو ته اچول پیل کړل، د دې په څنګ کې ورسره د افغان کډوالو په کورونو چاپې وهل کېدې، زېورات يې لوټېدل، شتمنۍ يې ترې ګرځول کېدې، حتی له ۵۰ زره ډېرو کلدارو، څارویو او ډېرو نورو قیمتي توکو د لېږد اجازه هم نه ورکول کېده، نو په داسې حالاتو کې به افغان کډوالو ته زښته ډېره سخته وي، چې تش لاس يې خپل ټاټوبي ته را وشړي.خو دا یوازې پاکستان نه و، چې په دې کال کې يې د افغان کډوالو په ایستلو لاس پورې کړ، ایران او ترکیې هم په دغه کال کې د افغان کډوالو پر وړاندې په یو ډول ستونزو زیاتولو کې ځانګړی رول درلود، دا لومړی ځل نه دی، چې له افغانانو سره د ایران او ترکیې د ناوړه چلند او یا جبري ایستلو په تړاو راپورونه ورکول کېږي، بلکې څه وخت وړاندې د بښنې نړیوال سازمان له افغان کډوالو سره د ایران پر ناوړه چلند هم اندېښنه ښودلې وه او له ایراني چارواکو يې غوښتي و، چې د افغانانو جبري ایستل بند کړي او هلته مېشت کډوالو سره غیر انساني چلند ته د پای ټکی کېږدي،خو لا هم په دې اړه د ایران له لوري کوم مثبت ګام نه تر سترګو کېږي.په هر حال د افغانانو ځورونه یوازې په پاکستان پورې محدوده نه وه، بلکې په ایران او ترکیې کې هم د یو شمېر افغانانو پر وړاندې له کېدونکي ناوړه چلنده شکایتونه اورېدل کېږي،داچې په ګاونډیو هېوادونو کې میلیونونه کډوال مېشت دي، چې وخت نا وخت له خورا زیاتو ستونزو سره مخ کېږي، په دې برخه کې له ګاونډیو غوښتنه کوو، چې د افغانستان د جګړه ځپلي وضعیت په پام کې نیولو سره له افغان کډوالو سره د ښه چلند تګلاره غوره کړي او د افغان کډوالو پر وړاندې شته ستونزې له منځه یوسي.که څه هم د الله په فضل او مهربانۍ سره په افغانستان کې سرتاسري امنیت راغلی، خو په ورته وخت کې له اوږدو جګړو راوتلي افغانستان کې لا هم د کډوالو د راستنېدو لپاره د اقتصادي وضعیت ستونزې یادولی شو، له دې امله ګاونډیو هېوادونو ته په کار ده چې لا هم افغان کډوالو ته له صبر او زغم څخه کار واخلي او هېڅکله ګاونډیان افغان کډوال د سیاسي فشارونو وسیله ونه ګرځوي. دغه راز په ګاونډیو هېوادونو کې د افغان کډوالو د غیرعادلانه محکمو، د ښوونې او روزنې او روغتیا خدماتو ته په لاسرسي، د پولیسو له خوا ځورونې، د وېزو په برخه کې شته ستونزې، د افغان کډوالو شتمنیو او کاروبارونو ته ګواښونه هغه څه دي، چې افغانان يې تل پر وړاندې اندېښمن وي، نو حکومت ته په کار ده،چې له یادو هېوادونو سره د افغان کډوالو ستونزې حل او مقابل لوري ته هم په کار ده،چې پر خپلو پالیسیو غور وکړي.لنډه داچې د افغان کډوالو په وړاندې د تېر ۲۰۲۳ زیږدیز کال ستونزه نه د پاکستان پر ګټه وه، چې افغان کډوال د خپلې خوښې خلاف هېواد ته په اجباري ډول راستانه کړي او نه هم د افغانستان په ګټه وه، چې میلیونونو افغان کډوالو ته په یوه وخت هرکلی ووایي.د دې ترڅنګ له افغان کډوالو سره د پاکستان د حکومت ناسم چلند نه یوازې دا چې د دواړو هېوادونو د حکومتونو پر اړیکو منفي اغېز شیندي، بلکې د دواړو هېوادونو د خلکو ترمنځ هم شته اشتراکاتو ته په کتو سره منفي پایلې لرلی شي، له همدې امله په ګاونډیو هېوادونو کې پر افغان کډوالو راغلی وضعیت هېڅ یو افغان ته د منلو وړ نه دی!

# ډیورنډ کرښې ته د افغان زمامدارانو غبرګونونه

لیکوال: خالد افغان

د ډیورنډ له تړونه څه باندې ۱۱۰ کاله تېرېږي، خو د دغو کلونو په لړ کې د افغانستان له ۱۸ نیولې ایله ۴ لومړنیو حکومتونو او زمامدارانو د دې کرښې په باب کوم اعتراض نه دی پورته کړی. دا څلور هغه حکومتونه و،چې په لومړنیو وختونو کې د انګرېز له سخت انتقاد او فشار لاندې وو. له دې جملې ۱۴ هغه حکومتونه وو،چې په مستقیمه او یا غیر مستقیمه طریقه يې د دې پولې پر وړاندې د اعتراض او احتجاج غږ پورته کړی. د دغو څلورو زمامدارانو په وخت کې د افغانستان بهرنی سیاست تر ډېره د انګرېزانو په لاس کې و او افغانستان ته يې ټولې مواصلاتي او ترانزیټي لارې ترلې وې. مانا افغان حکومت به په خپلواک ډول نه شوای کولی،چې له نورو هېوادونو سره راشه درشه او یا هم اقتصادي او سیاسي اړیکې وپالي. په کابل کې شته حکومت که به غوښتل چې له کوم چا سره قرارداد وکړي او یا هم کوم څه وارد او صادر کړي، د انګرېز اجازه په کې حتمي وه. په ټوله کې ویلی شو،چې د افغان خاورې بهرنی سیاست د انګرېزانو له غوښتنو او ایین سره سم سنبالېده.

پاکستان د محمد ظاهر شاه د واکمنۍ په پیر کې د خاورینې کرېږې په مخ رابښکاره شو. د محمد ظاهر شاه په پاچاهۍ کې افغانستان لومړی هېواد و،چې ملګرو ملتونو کې يې د پاکستان له غړیتوب سره مخالفت وښوود او د ډیورنډ کرښې مسئله يې راپورته کړه. د محمد ظاهره شاه په واکمنۍ کې پاکستان له افغانستانه د ډیورنډ کرښې د رسمي کېدو غوښتنه نه ده کړې، خو د محمد ظاهره شاه حکومت په ملګرو ملتونو کې د پاکستان له غړیتوب سره په دې مخالفت ښوودلو، چې یاد نړیوال سازمان کې د پاکستان په غړیتوب سره به د افغانستان او بریتانوي هند ترمنځ پخواني تړونونه چې ډیورنډ کرښه هم په کې شامله وه ماتېږي. د محمد ظاهر شاه په واکمنۍ کې د پښتونستان مسئله راپورته شوه او د ډیورنډ کرښې هغه غاړې خلکو ته د بشري حقونو پر ورکړه ټینګار وشو. سردار محمد داود د ډیورنډ کرښې په باب ډېر حساس و. د ده په واکمنۍ کې د پښتونستان مسئلې په نوم دا جنجال خپل حساس پړاو خپل کړ. داود خان له پاکستان سره توندې اړیکې درلودې او د پښتونستان مسئلې پر سر نړدې و چې افغانستان او پاکستان وسله والې جګړې ته مخه کړي. محمد داود خان د پښتونستان مسئلې ته ډېر ارزښت ورکولو او په ټول توان يې هڅه کوله، چې د ډیورنډ کرښې هغه غاړې خاوره د لوی افغانستان برخه جوړه کړي.

د نور محمد ترکي په وخت کې یو ځل د پاکستان د هغه وخت ولسمشر ضیا الحق افغانستان ته په رسمي سفر راغی. نوموړي له نور محمد تره کي وغوښتل چې ډیورنډ په رسمیت وپېژني، خو تره کي يې غوښتنه ونه منله. نور محمد تره کي وویل چې دا یوه استعماري او په زور کښل شوې کرښه ده او افغان ولس ته هېڅکله د منلو نه ده. پاکستان بل ځل په ناامیدۍ حفیظ الله امین ته مخه کړه. خو له دې خبر نه و چې امین په دې معضله کې حساس دی او د افغانستان قومي جوړښتونه ورته د ارزښت وړ دي. امین په کلکه د ډیورنډ کرښې له منلو انکار وکړ.

ببرک کارمل چې د پرچم مشر او د هغه وخت د افغانستان ولسمشر و د ډیورنډ له رسمیت سره يې حساسیت درلود. د هغه مهال یوه پرچمي ورځپاڼه د ببرک کارمل له خولې لیکي چې افغان حکومت له ډیورنډ هغې غاړې پښتنو او بلوڅو د حقونو ملاتړ کوي؛ څو دوی خپل برخلیک په خپله وټاکي او هېڅکله د افغانستان حکومت د ډیورنډ تپل شوې کرښه د یوې رسمي کرښې په ډول په رسمیت نه پېژني.

د اسلامي امارت په لومړۍ پلا حکومتولۍ کې پاکستان د هغه وخت د اسلامي امارت له مشرانو درې ځلې وغوښتل چې د ډیورنډ کرښه په رسمیت وپېژني؛ خو دا ارمان يې پوره نه شو.

د عوامي نېشنل ګوند پخوانی مشر او د پاچا خان لمسی اسفندیار ولي خان د پاکستان د هغه وخت د کورنیو چارو د وزیر نصر الله بابر له خولې لیکي چې یو وخت کندهار ته لاړم او له لوی ملا صاحب مرحوم امیرالمؤمنین ملا محمد عمر رحمه الله سره په یوه دسترخان ډوډۍ ته کېناستم، چې غلي مې وپوښتل چې که ملا صاحب دا کرښه په رسمیت وپېژني؛ نو هر څه به حل شي. دی وایي چې لوی ملا صاحب راته کړه،چې ډوډۍ کېږده او سېده ووځه خاینه. اسفندیار وایي چې پښتون ته دا ډېره ګرانه خبره ده چې یو څوک دې له خپلې حجرې وشړي او بیا يې له دسترخوانه پورته کړل خو بیخي لویه خبره ده. خو دا د دې ښکارندویه ده چې فرد فرد افغان ته د ډیورنډ مسئله څومره با ارزښته او پر وړاندې يې څومره حساس دي.

په ټوله کې ویلی شو چې د ډیورنډ مسئله یوازې د وخت د حاکم مسله نه ده؛ بلکې دا د ټولو پښتون ولس او افغان ملت شریکه مسئله ده او پر وړاندې يې فرد فرد افغان مکلف دی.

# مولوي يعقوب مجاهد او ګاونډيانو ته د محاسبې هنري ياد!

ليکنه: حمادافغان شيرزاد

تېره ورځ د حکومت د رسنيو په مرکز کې د افغان دولت د څو لوړپوړو دولتي بېلابېلو ارګانونو مسؤلينو د امنيتي وضعيت په اړه خبري کنفرانس ورکړ او په وروستۍ برخه کې يې د خبريالانو پوښتنو ته ځوابونه وويل.

ياد کنفرانس چې د امنيتي او تصفيوي چارو د کمېسيون له لوري دائر شوی و، چې په کې د ياد کميسيون مشر او د ملي دفاع سرپرست وزير مولوي محمد يعقوب مجاهد په تېرو څو مياشتو کې د هېواد په امنيتي وضعيت کې د پرمختګونو، بدلونونو او اړونده چارو خبرې وکړې.

نوموړي د خپلو خبرو پر مهال وويل،چې په دوحه کې د اشغال د خاتمې تړون کې شوي تعهد ته ژمن يو، هېچاته اجازه نه ورکوو،چې د افغانستان خاوره د نورو پرخلاف وکاروي، دغه راز د هېچا په خلاف د تعدا اراده نه لرو او نه د چا تعدا منو او له ټولې نړۍ سره د سيمې او ګاونډيو هېوادونو په شمول ښې او رښتينې اړيکې غواړو.

نوموړي د پاکستان او تاجيکستان حکومتونو ته ورياده کړه چې موږ ستاسو د کړنو له محاسبې غافله نه يو، درک يې لرو؛ خو د حالاتو او شرايطو نزاکت په پام کې نيسو او له ټولو ګاونډيو هېوادونو سره د ښه اړيکو او راشه درشه سياست غواړو او دا مو نيک نيتي ده او په عمل کې مو ښودلې هم ده.مولوي يعقوب مجاهد وايي موږ دقيقه محاسبه لرو، چې دلته پر مساجدو، ديني علماؤ، مدرسو، خانقاو او د ولس پر تجمعاتو د شريرو عناصرو بريدونو کې هر ځل له خارجي اتباعو کار اخيستل شوی، چې ډېری شمير يې د تاجيکستان او پاکستان دي، چې په دغو بريدونو کې عملاً ښکيل دي، ځينې په کې وژل شوي او ځينې بيا د امنيتي ځواکونو له لوري نيول شوي.

ياده دې وي چې تاجيکستاني ولسمشر سپټمبر کې د منځنۍ اسيا د پنځه هېوادونو په سرمشريزه کې له افغانستانه د ويرې احساس کولو او د داعش يا نورو ډلو د قوي کېدو اندېښنه يې درلوده، خو خپله يې بيا په افغانستان کې د شر او فساد ډلې مقاومت ته مجلس جوړ کړ او همدا راز يې په افغانستان کې په وروستيو بريدونو کې د زياتو اتباعو وژل او نيول کېدل هم تائيد شول، چې دا په خپله د تاجيکستان پر مخ يوه درنه څپېړه ده، خو بيا هم افغان دولت د حسن همجوارۍ نيت ظاهر کړ او دا يې وويل چې ټول هېوادونه بايد خپلې پولې کلکې او د شريرو عناصرو مخه ونيسي.همدا راز پاکستان هم د افغانستان پر وړاندې په هر کنفرانس او هره وينا کې تورونه پورې کړي او کوي يې، چې تېره ورځ د ملي دفاع سرپرست وزير وينا ورته محاسبه وريادہ کړه او دا يې وښودله چې موږ هېڅکله ستاسو د کړنو له محاسبې غافله نه يو، بلکې نيت مو د ښو او غوره اړيکو دی، چې بايد د ټولو اصولو په مراعتولو سره وپالل شي.

# د اسلامي نظامونو پر وړاندې د منافقينو دسيسې: (لومړۍ برخه)

مولوي نورالحق مظهري

په دې خاطر چې اسلامي نظام په مځکه کې د الله تعالی دين پياده کوي، د حقيقي سياسي اسلام نماينده ګي، د ظالمانو د ظلم مخه نيسي او د هر ډول فساد مخنيوی کوي ځکه نو هر اهل باطل يې په وړاندې درېږي او د حاکم کېدلو مخه يې نيسي او که اسلامي نظام حاکم وي بيا يې د توسعې او بقاء پر ضد دسيسې جوړوي تر څو يې رنګ کړي.

اهل باطل د عقيدې، عمل او سياسي ليدلوري په لحاظ ډېر دي،خو د اسلامي نظام لپاره له ټولو ډېر خطرناک يې منافقين دي،چې ځانونه د اسلام يا تقوی په لباس کې ښکاره کوي خو اصالت يې بل ډول وي له همدې امله الله تعالی مسلمانان د دوی سره په احتياط کولو باندې امر کوي او فرمايي: هُمُ الْعَدُوُّ فَاحْذَرْهُمْ.[المنافقون: ۴] ژباړه: دوی دښمنان دي نو احتياط ورسره وکړئ. يعنې منافقين ستاسې دښمنان دي ځکه نو تاسې مأمور ياست چې له دوی سره ډېر احتياط وکړئ او د دوست په سترګه مه ورته ګورئ تر څو مو دوکه نه کړي او د ستونزو سره مو مخامخ نه کړي.

منافقين دوه ډوله دي: عقيدوي منافق او عملي منافق لکه امام ترمذي چې د حسن بصري رحمه الله په حواله فرمايي: النفاق نفاقان: نفاق التكذيب ونفاق العمل.[سنن ترمذي۳۶۳۲] ژباړه: نفاق پر دوه ډوله دی: د تکذيب نفاق او د عمل نفاق.

د تکذيب نفاق هغه وي چې څوک په ښکاره ايمان راوړي،خو په اصل کې يې ايمان نه وي راوړی،بلکې کافر وي او د عمل نفاق هغه دی،چې ايمان يې راوړی وي خو کارونه د منافق کوي لکه په احاديثو کې چې ځينې نښې د عملي نفاق ذکر سوي دي.

د تاريخ په اوږدو کې دواړې ډلې د اسلامي نظام په وړاندې خطرناکې تمامې سوي دي په خاصه توګه عقيدوي منافقين،چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم له زماني څخه بيا زموږ تر زمانې پورې يې تل عموماً د مسلمانانو پر ضد او بيا يې په خاصه توګه د اسلامي نظامونو پر ضد ناوړه کړنې ترسره کړي،چې موږ يې په څو کټګوريو کې په لاندې ډول ذکر کوو:

د رسول الله صلی الله عليه وسلم په زمانه کې منافقين:

د رسول الله صلی الله عليه وسلم په زمانه کې د يهودو او عربو منافقينو تل د دې کوښښ کوی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم او مسلمانانو ته ستونزې جوړې کړي او د دوی نوی تأسيس سوی اسلامي نظام رنګ کړي او يا يې هم لږ تر لږه د توسعې او پرمختګ مخه ونيسي؛ منافقينو به په دين کې شبهات پيدا کول، مسلمانان به يې پر دين باندې بې باوره کول، د مسلمانانو په منځ کې به يې بې اتفاقي خپروله، په مسلمانانو کې نيک خلک به يې په بدو کارونو متهمول آن تر دې چې خپله پر رسول الله صلی الله عليه وسلم او د ده پر کورنۍ به يې هم تهمتونه ويل او ټول هغه کارونه به يې کول چې د اسلام او مسلمانانو په تاوان تمامېدل؛ د بېلګې په ډول:

۱ – کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د تبوک غزوې ته آمادګي نيوله او صحابه يې وتلو ته امر کړل منافقينو د دې ترځنګ چې ځانونه يې له جهاده کښل او د تللو څخه يې ډډه وکړه،بلکې نور مسلمانان يې هم د جهاده راګرځول او کوښښ يې کوي چې مسلمانان د رسول الله صلی الله عليه وسلم د امر مخالفت وکړي؛ الله تعالی د دوی په اړه فرمايي:ژباړه: خوشحاله سول پاته سوي کسان په ناستي سره د دوی وروسته تر رسول الله صلی الله عليه وسلم او دوی بد وګڼل چې په خپلو مالونو او ځانونو د الله تعالی په لاره کې جهاد وکړي او دوی وويل: په ګرمۍ کې مه وځئ ورته ووايه چې د جهنم اور ډېر ګرم دی که دوی پوهېږي. [التوبة۸۱]

دلته منافقين خپله هم جهاد ته نه تلل او د مسلمانانو په منځ کې يې نفاق ته هم لمنه وهل تر څو هغوی هم د دوی غوندې جهاد ته ولاړ نسي ځکه يې نو ورته وويل: په ګرمۍ کې مه وځئ.

۲ – کله چې رسول الله صلی الله عليه د تبوک غزوې د وتلو اراده وکړه نو جد بني قيس ته يې ويل: څنګه يې د بني الاصفر قوم سره جنګ کولو ته؟ هغه ورته وويل: يارسول الله ته پوهېږې،چې زه د ښځو ډېر شوقي يم،نو که زه جنګ ته درسره ولاړ سم ممکن د ښځو په فتنه کې ولوېږم او دين به مې خراب سي؛ مفسرينو ليکلي،چې دا سړی منافق و،په دې ډول يې د جهاد څخه ځان وکيښ او رسول الله صلی الله عليه وسلم ته يې درواغ ويل؛ الله تعالی يې په اړه دا آيت نازل کړ:ژباړه: ځينې د دوی(د منافقينو څخه) هغه څوک دي چې وايي: ما ته اجازه( د پاتي کېدلو) راکړه او په فتنه کې مې مه اچوه، خبر اوسه چې دوی په فتنه کې لوېدلي او يقيناً چې جهنم پر کافرانو باندې راګرځېدلی دی. [التوبة۴۹]

دې منافق د دې ترځنګ چې خپله جهاد ته نه تلو نور مسلمانان يې هم د جهاد نه تللو ته هڅول او هغوی ته يې هم د عذر او ګناه نقل وکوی.

۳ – کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د تبوک غزوې د تللو اراده وکړه څو منافقين د يوه يهودي چې سويلم نومېدی په کور کې سره راټول سول تر څو مسلمانان له کفارو سره د جګړې څخه را وګرځوي؛ کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم پرې خبر سو طلحه بن عبيدالله رضي الله عنه يې د څو نفرو سره ور واستوی او امر يې ورته وکړ چې د سويلم کور وسوځوئ او راټول سوي خلک پسې واخلئ؛ طلحه بن عبيدالله رضي الله عنه دا کار وکړ او منافقين ټول و تښتېدل.

دا د مسلمانانو پر ضد د منافقينو له دسيسو څخه يوه دسيسه وه ترڅو په مسلمانانو کې وېره خپره کړي،له دښمن څخه يې ووېروي او د جهاد کولو څخه يې را وګرځوي.

۴ – کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د تبوک غزوې ته تلی حضرت علي رضي الله عنه يې د لنډ وخت لپاره په مدينه منوره کې د خليفه پر حيث پرېښود دلته نو منافقينو په خپل منافقت پيل وکړ او آوازه يې ګډه کړه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم علي رضي الله عنه په دې خاطر له ځانه سره نه بيايي چې زړه يې نه غواړي او د هغه تلل وربانديې سخت تمامېږي؛ علي رضي الله عنه راغی او رسول الله صلی الله عليه وسلم ته يې ويل: يا رسول الله ځينې خلک وايي: ته ځکه ما دلته پرېږدې چې زما په تللو نه يې خوشحاله او زما تلل پر تا باندې سخت تمامېږي، رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل: آيا ته نه خوشحالېږې چې ته زما سره داسې سې لکه هارون عليه السلام د موسی عليه السلام سره؛ يعنې کله چې موسی عليه السلام د طور غره ته تلو، نو هارون عليه السلام يې تر خپل راتګ پورې د ځان نماينده وټاکه؛ زه هم تر خپل راتګ پورې تا خپل نماينده ټاکم؛ حضرت علي رضي الله عنه په دې باندې خوشحاله سو او د منافقينو د نفاق پلان شنډ سو.

د لته منافقينو غوښتل د رسول الله صلی الله عليه وسلم او د ده د صحابه وو تر منځ اختلاف او بې باوري پيدا کړي ترڅو د ده ملګري د ده د امر مخالفت وکړي او په خپل منځ کې سره اخته سي او د کفارو سره جګړه کول ورڅخه پاتې سي.

۵ – کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم صحابه د خيراتونو او صدقاتو ورکولو ته تشويق کړه عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه څلور زره ديناره د صدقې لپاره راوړه؛ منافقينو وويل: دا خو يې د رياء لپاره راوړي او چه کله بل صحابه دوه پيمانې خورما د صدقې لپاره راوړه منافقينو وويل: الله او د هغه رسول ستا دغه پيمانې ته هېڅ ضرورت نه لري.

دلته د منافقينو هدف دا و،چې مسلمانان د خيراتونو له ورکولو څخه را وګرځوي ځکه يې نو پر ډېر مال ورکوونکي او لږ مال ورکوونکي دواړو نيوکې وکړې، يو يې په ريا متهم کړ او د هغه بل صدقه يې بې ارزښته وګڼل؛ الله تعالی د دوی په رد کې دا آيت نازل کړ: ژباړه: هغه منافقان چې عيب وايي پر خيرات ورکوونکو د مؤمنانو په خيراتونو کې او د هغه کسانو عيب وايي چې دوی نسي موندلای مګر د خپل کوښښ په اندازه الله تعالی به د دوی مسخرو عذاب ورکوي او د دوی لپاره سخت عذاب دی.منافقانو پر هغو مؤمنانو هم بد ويل چې ډېر خيرات يې ورکړی و او پر هغو مسلمانانو يې هم بد ويل چې لږ خيرات يې ورکړی و،ځکه دا د منافق عادت دی چې په هر شي کې پلمه او فاسده خبره پيدا کوي؛ الله تعالی د دوی دغه کار وغنده او دوی مؤمنانو ته رسوا کړه.

٦ – کله مسلمانان د تبوک غزوې ته د روميانو سره جګړې ته روانېدل ځينو منافقينو ورته ويل: تاسې پر روميانو د عربو ګمان کوئ چې جګړې مو ورسره کولې؟ هدف يې دا و، چې مسلمانان و وېروي او له روميانو سره د جګړې يې را وګرځوي.

۷ – کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم په مدينې منورې کې د اسلامي نظام بنسټ کېښود او مهاجرين او انصار يې سره ورونه کړه د منافقينو دغه حالت نه خوښېده نو د دې لپاره چې د مسلمانانو منځ کې بې اتفاقي راولي مسجد ضرار يې جوړ کړ،خو الله تعالی دوی رسوا کړه او رسول الله صلی الله عليه وسلم يې مسجد وران کړ.

۸ – منافقينو د دې لپاره چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم شخصت داغداره کړي او د ده مبارکه کورنۍ بدنامه کړي د مشهور منافق عبدالله بن ابی بن سلول په دسيسه يې پر عائشې رضي الله عنها تهمت ولګوی ځکه تهمت لګول هم د فکري جګړې څخه برخه ده چې تل يې کفار او منافقين د مسلمانانو او بيا اسلامي نظامونو پر ضد کاروي؛ خو الله تعالی د عائشې رضي الله عنها پر پاکۍ قرآن نازل کړ او نافقين يې رسوا کړه.

لنډه دا چې په زمانه کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم منافقينو ډېر کوښښونه وکړل تر څو د صحابه وو تر منځ اختلافات پيدا کړي، د رسول الله صلی الله عليه وسلم د اطاعت ارزښت په صحابه وو کې کم کړي، د مسلمانانو دښمنان پر دوی باندې را وپاروي، انصار او مهاجرين، اوس او خرزج سره وجنګوي او د دوی ترمنځ قومي جګړې پيل کړي؛ دا ټول د دې لپاره چې په مدينې منورې کې د اسلامي نظام مخنيوی وکړي.په هره زمانه کې بايد مسلمانان په خاصه توګه د اسلامي نظام مشران د منافقينو مکر او فريب ته متوجه وسي او د دوی په چاپلوسۍ، خوږمالۍ، خوږو خبرو او ظاهري دوستۍ دوکه نسي تر څو خدای مکړه تسلط، نفوذ او اقتدار يې له منځه يو نه سي. نور بيا ...

# هلمند؛ د معرکو هېر شوی ډګر!

دادمحمد ناوک

باستن د هلمند په مغروره خاوره آباد شوی و، کوم ځای چې يرغلګرو د اسيا لپاره د خپلو پريکړو د اعلان او تطبيق مرکز ګانه؛ همدلته ګڼو يرغلګرو په تېره بيا د برتانيا اشربانو ځانونه ستړي کړل، د سنګين، موسی کلا، نادعلي او هرې ولسوالۍ پراخ ډګرونه يې پر وړاندې سره اورونه شول، ځوانانو سرونه لاسونو کې ونيول او په رنه ډګر يې له يوې مشينګنې سره په ټانګ ور منده کړه!

دې معززه خاوره کې داسې کارنامې ننداري ته وړاندې شوې،چې که موږ د حکومت په کچه د تاريخ خوندې کولو ذوق او وړتيا لرلی نو هره لوته، هره ونه او حتی هر فرد يې له ځان سره د اشغال د ناوخوالو او د مسلمانانو د مبارزې داسې ناويلې لري، چې د مبارزې د بريا او د کفر د ناکامۍ عوامل په کې موندل کېدلی شي.

له خيرخانې د ښار په لوري موټر کې راسپاره و؛ يو تن پر بل په فارسي غږ کړل:

ـ شيشه ټيټه کړه، سخته ګرمي ده!

يو بل نيم سرخرېيلی ځوان پکې ور شريک شو:

ـ ګرمي دلته له کومه شوه، ګرمي خو هلمند کې ده، کابل کې خو لکه ژمی چې وي.

ـ تا هلمند کې څه کول؟

ـ وظيفه مې وه، اردو کې يم!

ـ هلته خو سخت جنګونه وي!؟

ـ موږ يې هم زانګو کې ماشوم لا نه پرېښود، چې لوېېده بې له هغه ط...ال..ب ځنې جوړېده! پاخه سړي غاړه تازه کړه، د شا سيټ ته يې را وکتل:

ـ دا خو جنايت دی، چې دا اوس زه عريضه در باندې وکړم، ولاکه ځان را نه خلاص کړې!

ځوان په پسخند وويل:

ـ د څه شي جنايت، هلته ښځې، نارينه، لوی او واړه ټول له يوې مخې طالبان دي.

همدا د معرکو ډګر چې شه..يد عبدالمنان تق.. بل..ه الله پکې ځان غلبيل کړ، پرله پسې نږدې دوه نيم کاله نه د کوم قلموال، نه د کوم مقرر، نه د کوم فرهنګي، نه د کوم فکري - فرهنګي ادرس او نه د کومې رسنۍ کمرې ته برابر شو، چې دلته د کفر او مزدروانو يې، جنايات را وسپړي د دې سوچه مسلمان ولس قربانۍ، سرښندنې او د يرغلګرو پر وړاندې کرکه تر بحث لاندې ونيسي.

دا زموږ مسؤليت دی چې د مبارزې له پيله او د بريا تر وروستۍ ورځې د دې معززې خاورې تاريخ خوندې کړو، هغه هلمند بايد ثبت شي،چې زرګونه برېتانوي ککرۍ پکې ورغښتې، حتی د برېتانيا شهزاده تېښته وکړه، چې سلامت ودونه بمبارونو لمبو لولپه کړل، چې زانګوګانو کې تي خور ماشومان نيم نيم را ټول شول، چې بريا ته نږدې شېبو کې په کې کفر پوره زور وازمايه، صحي او تعليمي مراکز يې د الوتکو تر بريد لاندې ونيول او د مرکز فزيکي نقشه يې بدله کړه!

هلمند په دې ارزي چې جلا بحثونه پرې وشي، د ژونديو مبارزينو ژوند ليکونه يې را ټول او د تلليو سرښندونکو تاريخ يې ټکي په ټکي ثبت شي، هيله ده چې ټول قلم وال، په تېره بيا د کندهار فرهنګي حوزې ملګري يې خپل مسؤليت وګڼي.

# په شل کلن جهاد کې د ترنم او ترانو نقش

**قاري عبدالستار سعید**

ترنم او ترانه خواني د امریکایي اشغال پر وړاندې زموږ د برمیال جهاد هغه برخه ده چې له مؤثریت او ټاکونکي کرداره یې هېڅوک سترګې نه شي پټولای. حتی اشغالګر او په ماتې محکوم دښمنان هم په پای کې دې نتیجې ته ورسېدل چې د دوی د پراخ فکري جنګ، تبلیغاتي وسایلو او رواني کارزار په وړاندې د مجاهدینو دودیز تبلیغاتي مقاومت( چې عمده برخه یې حماسي ترانې وې) د ساره جنګ میدان ګټلی او د افغان ولس دل او دماغ یې تسخیر کړی دی. د دې ادعا غوره دلیل هغه څېړنې او کتابونه دي، چې د جهاد په وروستیو کلونو کې د غربي څېړونکو لخوا زموږ د جهادي اشعارو او ترانو په اړه لیکل شوي او خپاره شوي دي. چې هدف یې د مجاهدینو د بریا د یوه مهم عامل په حیث د حماسي اشعارو څېړنه ده.

دلته د وخت محدودیت ته په پام سره جهادي ترانو او ترنم د مؤثریت ځینو اړخونو ته په لنډو اشاره کوو.

د بیدارۍ غږ

کله چې یو ولس د رعب او وهم خپسه لاندې کړي. کله چې عمومي روحیه ماتې وخوري، د ټولنې ارادي ځواک فلج شي او د حرکت او پاڅون سیک وبایلي. دغه وخت د صور د شپېلۍ په شان یوه تکان ورکوونکي غږ ته ضرورت وي چې مړه احساسات را ژوندي او خوبولې پرګنې بیدارې کړي.

په افغانستان د نړیوال کفري ایتلاف له یرغل، د اسلامي امارت له شاتګ او پر هېواد د امریکا له واکمنېدو سره همداسې حالت رامنځته شو. غربیان نه یوازې په نالیدلو او پرمختللو وسلو سمبال و، بلکې د خپل پراخ رواني ـ تبلیغاتي جنګ پر مټ یې زموږ په عامه روان او ذهنیت دا منلې وه چې له امریکا سره نه کېږي. ولس د رعب او وهم تر طلسم لاندې و. هر چا روان یرغل ته په ساړه نظر کتل او یوازې ننداره یې کوله. په دې امتحاني حالاتو کې که له یوې خوا الله تعالی ځینې اولو العزمه مجاهدین پیدا کړل، چې په تش لاس او لوړ تکل د امریکا د استدراجي قوت مقابلې ته ورمخکې شول. بل مهم عنصر چې ولس ته یې تکان ورکړ، زموږ د ترانه ویونکو هغه ویښوونکي غږ و، چې د شعر او ترانو په روح پاروونکو زمزمو یې د ولس مېړانه را وننګوله.

په دې حساسه مرحله کې جهادي ترانو د ( قم باذن الله) کردار اداء کړ، ولس یې ویښ کړ، پوه یې کړ او د دې توان یې ورکړ، چې د نندارچي په حیث نه، بلکې د یوه فعال فکتور په حیث د حوادثو ټکر ته راوړاندې شي.

روحیه او مورال

وړاندې وویل شول، چې حماسي ترانو زموږ ولس هغه وخت د ننګ او جنګ ډګر ته راوباله، چې د جهادي داعیې لپاره نور ټول غږونه تقریباً خاموش شوي وو. خو جنګ نه یوازې وسله، بلکې روحیه هم غواړي. د تاریخ یو لوی جنګیالی او د اروپا نیواکګر ناپلیون د خپلو اوږدو جنګي تجربو په پایله کې دې حقیقت ته رسېږي، چې په جګړه کې وروستۍ پرېکړه ټوپک نه، بلکې مورال او روحیه کوي.

